عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۱٦

# اعلیحضرت محمد نادرشاه

دوهمه برخه

## د کابل د تخت لپاره هلي ځلي:

د حبیب الله کلکاني او اندیوالانو له خوا د کابل د اشغال سره سم د تخت د نیولو لپاره له بېلو بېلو خواوو هلي ځلي پیل سوی. کابل د تقریبا نهو میاشتو لپاره یوه ورځ او شپه ارامه ونه لیده؛ او داسي ورځ نه وه چي د کابل څخه په لیري او نیژدې سیمو کي واړه او لوی جنګونه نه وي سوي. پخپله کابل د ډېرو بدو پېښو شاهد وو.

فیض محمد کاتب، چي د هغه وخت د ټولو بدمرغو پېښو شاهد دی په خپل کتاب تذکر الانقلاب کي لیکي:

«بچه سقاو او سید حسین دواړو په ظاهره د اسلام او دینداری لاپي کولې خو په عمل کي یې داسي کارونه کول چي په هیڅ شرع کي روانه دي. هره ورځ به یې جار واهه چي دوکانونه پرانیزی اوکه څوک د چا له دوکانه شی واخلي حکومت به هغه په ګولی وولي. مګر په عمل کي دبچه‌سقاو عسکرو او افسرانو د خلکو له دوکانونو څخه مالونه اخیستل او په توبرو کي به یې وړل. دغه راز، د توپکو او وسلو د پلټلو او پیدا کولو په پلمه، د خلکو کورونو ته ننوتل او نقد او جنس یې چورول» تذکرالانقلاب ص ۸۴

## د دې بدمرغو پېښو بل عیني شاهد پروفیسر محمدعلي لیکي:

«په هغو نهو میاشتو کي چي واک د دې ډلي په لاس کي وو، پر کابل باندي داسي وحشت تېر سو چي کیسي یې د کولو نه دي. د کابل بېچاره ښاریان د دې وحشت لومړني قربانیان ول. ارګ د دې وحشیانه استبداد مرکز وو، چي هر ډول عدالت او بشري قانون یې تر پښو لاندي کاوه؛ او قدرت یې نه د خدای او نه د خلکو په زور اخیستی وو، بلکه د توري په زور یې نیولی وو.

ښوونځي او ټول ګټور موسسات وتړل سول. کتابخاني، لابراتوارونه او شاهي موزیم چور سول او نادر کتابونه یا وسوځول سول او یا په ډېر نازل قیمت خرڅ سول. یوه سړي په یوه غیران دونه کتابونه رانیولای سوای چي وړلای یې نه سوای» محمدعلي ص ۴۳

کابل پوره نهه میاشتي د داسي جنایتونو میدان وو چي په خپل تاریخ کي یې نه وه لیدلي. د حبیب الله کلکاني کشر وړور حمیدالله، چي له سقاو څخه وروسته یې تام اختیارات په لاس کي ول، د کابل والي ملک محسن او د سقاو صدراعظم سید حسین، چي ویل

کېږي په درېو میاشتو کې یې په خپل حرم کې څه باندې ځلوېښت ښځې غونډې کړې وې؛ او په نامه کړو یا نامزدو ښځو حساب یې لا چاته معلوم نه وو، تر ټولو زیات په جنایتونو کې برخه درلوده. مجددي ص ۴۴۶ په دې باب زیات تفصیل موږ له موضوع څخه لیرې کوي.

علي احمد خان، چې امان الله خان د شینوارو، خوګیانیو او نورو پښتنو د ښورښ د کرارولو او له خلکو سره د روغې جوړې د خبرو کولو لپاره مشرقي ته لېږلی وو، میدان خالي ولیدی او ځان یې پاچا اعلان کړ او د خلکو څخه د بیعت اخیستلو په کار لګیا سو. محمدګل خان او سید حسن کنډکمشر چې د علي احمدخان له دې عمل سره مخالفت وښود او هغه ته یې د وطن د نجات او ژغورلو توصیه کوله، دواړه وډبول او پر کابل باندې یې د حملې تیاری پیل کړ. د علي احمد خان په پوځ کې دوه لوی ملکان محمدشاه خان او ملک محمدجان له یوه بل سره سخت مخالف ول او پر کابل باندې د حملې د پیل کولو څخه مخکې یې په خپلو کې سره وویشتل او دواړه مړه سول. په دې توګه پر کابل باندې د علي احمدخان یرغل او پوځې عملیات وځنډېدل. انیس ص ۹۹

علي احمد خان د جلال آباد له حکومتي خزانې څخه لاسته راوړې پیسې او هغه پیسې چې امان الله خان په مشرقي کې د سولې د ټیګولو لپاره ورکړې وې ډېرې ژر ولګولې او کله چې پوه سو چې هیڅ کار یې پر مخ نه ځي نو له انګرېزانو څخه یې د دونه زیاتو مرستو غوښتنه وکړه چې که د افغانستان پاچا وای هم به یې نه وای ترلاسه کړې.

»علي احمد خان د فبروري پر دریمه پېښور ته یو لیک واستاوه چې په الوتکه کې په کابل کې د انګرېزانو سفیر فرانسیس همفریس ته ورسېږي. هغه له همفریس څخه غوښتي وه چې د برتانیې حکومت دې یو میلیون سټرلینګ پونډه، سل لارۍ موټرونه، چې له هر موټر سره به یو موټروان او دوه میخانیکان ملګري وي،دوه زره خېمې، د دوو زرو کسانو لپاره یونیفورمونه او بالاپوښونه،شل زره ټوپکونه او شل میلیونه مرمۍ، دېرش غرني توپونه او له هر توپ سره زر ګولۍ،زر ځین کړي آسونه، دوولس بې سیم ټلفونونه له پرسونل سره، په ماشین ګنو سمبالې، یو شمېر پوځۍ الوتکې، لویې مسافر وړونکې الوتکې له برتانوي پیلوټانو او اتیازرو ګېلنو تېلو او د سون موادو سره. علي احمد خان لیکلي وه چې لکه څرنګه چې ما یې پیش بیني درته کړې وه امان الله ثابته کړه چې هغه د پاچهي لایق نه وو. بچه سقاو یو داړه مار دی بل څه نه دی. پر کابل باندې به ډېر ژر له هرې خوا حملې پیل سي. بلشویکان غواړي په افغانستان کې داسې جمهوریت منځته راوړي چې ډېر ژر به هیواد تباه کړي. دوی د هغه خوسا سوي منې مثال لري چې ټول بار خرابوي. ده ځان د برتانیې د حکومت زوړ دوست معرفي کړی وو او لیکلي یې وه چې برتانیه باید له غرور څخه کار وانه خلي او دا فرصت له لاسه ورنه کړي» ستیوارټ ص ص ۴۹۷-۹۸

داچې علي احمدخان ولې له انګرېزانو څخه دونه زیاتې غوښتنې کړې وې او په داسې وخت کې یې، چې تقریبا هیڅ یې په لاس کې نه لرل، څرنګه پر انګرېزانو باندې دونه زیات حساب کړی وو، سړی څه نه سي ویلای خو لکه څرنګه چې انتظار یې ایستل کېدی، همفریس د ده لیک ته جواب قدر هم ور نه کړ. خوګیاني ملک قیس، چې د علي احمدخان ټینګ ملګری وو، له سقاو سره پټ تماس ونیوی او هغه ته یې د علي احمد خان د نیولو وعده ورکړه. بچه سقاو هم له ملک قیس سره د اووه لسو زرو روپیو او نایب سالارۍ ژمنه وکړه. د قبایلو خانانو او ملکانو له علي احمدخان سره خیانت وکړ. پر هغه باندې یې حمله وکړه؛ د هغه درې سوه د تورې قبیلې محافظین یې ټول ووژل؛ او علي احمد خان ایله په تېښته بریالی سو او په یوه جوړه جامو کې پیاده پېښور ته ورسېدی.

## د شوروي اتحاد پوځي مداخله او غلام نبي خان چرخي:

انګرېزانو د افغانستان د بحران او داخلي جنګونو په جریان کې لرترلړه ظاهري بېطرفي وساتله؛ او چې هر چا به د مرستې خواست ورته وکړ نو دوی به خپله بېطرفي پلمه کوله. له پاچهی څخه د استعفی کولو او کندهار ته له تللو سره، د اعلیحضرت امان الله خان قانوني او مشروع دریځ ډېر کمزوری سو. نور نو هغه ته چا د یوه قانوني پاچا په حیث نه بلکه د کابل د تخت د

نیولو د یوه دعوا ګیر په سترګه کتل. کله چي هغه له کندهار څخه له انګرېزانو څخه د وسلو غوښتنه وکړه؛ انګرېزانو حتی په نغدو پیسو د وسلو له ورکولو څخه ډډه وکړه. انګرېزانو هغه ته په ډېره سړه لهجه جواب ورکړ چي دوی د هغه د استعفي بیرته اخیستل په رسمیت نه پېژني او هغه ته د کابل د تخت د یوه بل دعواګیر په سترګه ګوري. او د برتانیي د بي طرفي پالیسي هغوی ته اجازه نه ورکوي چي د افغانستان په داخلي جنګونوکي لاس وهنه وکړي. پولادا ص ۲۵۹

خو شوروي اتحاد، که څه هم غوښتل چي له امان الله خان سره پټي مرستي وکړي، برالا نظامي مداخله وکړه. د شوروي اتحاد د کمونیستږ ګوند د مرکزي کمېټي سیاسی دفتر د مارچ پر شلمه فیصله وکړه چي قدرت ته د امان الله د بیرته رسولو لپاره به د افغاني قواوو سره ګډ پوځي عملیات کوي. که څه هم چي د شوروي اتحاد منابع وایی چي دا مرستي وړیا نه وې بلکه افغانستان باید، په بدل کي، شوروي اتحاد ته پنبه، څرمن، وړی او نور ارښتناک مواد ورکړي وای. ولادیمیر بویکو ص ص ۱۷۸-۷۹

د کمونیستږ ګوند د سیاسي دفتر په هغه غونډه کي ستالین، جنرال غلام نبي خان چرخي او په کابل کي د شوروي د سفارت نظامي آتشه پریماکوف برخه درلوده او فیصله وسوه چي د شوروي د سره پوځ عسکر دي په افغاني جامو کي د غلام نبي خان تر قوماندې لاندي حرکت وکړي او د مزار شریف ښار دي ونیسی. له دې څخه څو هفتي وروسته د شوروي جنګي الوتکو د افغانستان پر خاوره باندي یرغل وکړ او هغه عسکر یې تول له منځه یووړل چي پر الوتکو یې دزي کړي وکړې. په دې عملیاتو کي تقریبا دوه زره افغانان ووژل سول. د مزار شریف ښار ونیول سو او د غلام نبي خان تر قوماندې لاندي شوروي او افغاني قواوو د تاشقرغان پر لور حرکت وکړ. په دې ښار کي هم د بچه سقاو پوځ ډېر ژر ماته وکړه او تقریبا درې زره تنه یې ووژل سول، او غلام نبي خان د خان آباد پر لور حرکت وکړ. د عملیاتو په جریان کي هغه ته خبر ورسېدی چي امان الله خان له مقاومته لاس اخیستی او له هیواده وتلی دی. غلام نبي خان هم له خپلو قواوو سره پر شا سو او بیرته د شوروي اتحاد خاوري ته ننووت. د شوروي د قواوو د پر شا کېدلو یو علت دا هم ګڼل کېږي چي په بهر نیو هیوادونو او اروپا کي په افغانستان کي د شوروي د پوځي مداخلي رپوټونه خپاره سول او شوروي مجبور سو چي ډېر ژر میدان خوشي کړي. آقابکوف ص ص ۲۰۴-۵

شوروي محقق تیخانوف لیکي: نور نو بچه سقاو او انګرېزانو کولای سوای چي د خپل بري جشن ونیسي او شورویان مجبور ول چي واقعیت ومني.

له افغانستان څخه د امان الله خان له تېښتېدلو سره په مزار شریف کي د غلام نبي خان چرخي د قواوو عملیات بي مفهومه سول. د ۱۹۲۹ کال د مي په وروستیو شپو ورځو کي دا قواوي بیرته شوروي ته وغوښتلي سوې. دا د هیچا پر زړه برابر کار نه وو. د شوروي اتحاد د مرکزي اسیا پوځي قوماندانی په خپل اطلاعاتي رپوټ کي ولیکل چي امان الله خان چي ښورښي قبایلو محاصره کړی وو، سره له هغه چي سیاسي وضع او تر یوه ځایه په شمال کي پوځي وضع د هغه په ګټه وه، هند ته وتښتېدی .

تیخانوف وروسته لیکي خارجه وزیر چیچیرین تر دې هم سپیني خبري کولي او د ۱۹۲۹ کال د جون په میاشت کي یې ستالین ته ولیکل چي د حکومت د ځینو کسانو د قومي تنګ نظریو له امله، شوروي دا تاریخي فرصت له لاسه ورکړ، څو د شورا ګانو د هیواد او برتانوي امپراطوری تر منځ خپل دریځ ټینګ کړي. هغه د امان الله خان د تلاښونو د وروستی ناکامی په باب، په ډېره غمګینه لهجه، لیکي چي د سترګو په رپ کي هرڅه برباد سول. آخ تاریخ (د دې قمار پر میدان، جهاني) موږ ته څه قوي پر په لاس راکړی وو. تیخانوف ص ۲۲۲

د سقاو حکومت، د شمال په جنګونو کي، پر غلام نبي خان باندي د دې ناڅاپي بري څخه وروسته، چي ښایی چنداني انتظار به یي هم نه درلود، په کابل کي د شوروي شارژدافیر ور وغوښت او له هغه څخه یي د افغانستان په شمال کي د شوروي پوځیانو او الوتکو د مستقیمي مداخلي په باره کي توضیحات وغوښتل خو د شوروي ډیپلوماټ نه یوازي په افغانستان کي پر هر ډول

مداخلې باندې منکر سو بلکه افغانستان یې د شوروي په خاوره کې د باسماچیانو په ملاتړ کولو تورن کړ او ضمناً یې د کابل حکومت ته په منتهی سپین سترګې یو یادداشت هم ور وسپاره. په یادداشت کې راغلي وه:

شوروي حکومت ته نه د هغه هیواد له پولو څخه د غلام نبي خان د تېرېدلو او نه د وسلو د ترلاسه کولو د سرچینې په باب معلومات سته. شوروي حکومت په قاطعانه ډول اعلان کوي چې د افغانستان د داخلي جنګ په جریان کې یې هیڅ الوتکه د کابل د حکومت له اجازې پرته د افغانستان فضا ته داخله سوې نه ده.

د شوروي حکومت د ۱۹۲۱ کال او دغه راز په پغمان کې د ۱۹۲۶ کال د تړون په اساس د افغانستان په داخلي چارو کې له هر ډول مداخلې څخه ډډه کوي او د افغانستان د استقلال درناوی کوي. بویکو ص ۱۹۷

په زړه پورې خبره دا ده چې د شوروي اتحاد خارجه وزارت د ۱۹۲۹ کال د جون پر دریمه، یه یوه غونډه کې، فیصله وکړه چې په کابل کې خپل شارژدافیر ته یادداشت ولیږي او د سقاو د زوی حکومت ته د افغانستان په چارو کې زموږ د مداخلې نه کولو په برخه کې اطمینان ورکړي او دا ورته ووایي چې په افغانستان کې د استحکام او د حکومت د واک له غځېدلو سره ښایي شوروي اتحاد د کابل حکومت هم په رسمیت وپېژني. هغه کتاب ص ۱۹۸

د افغانستان تاریخ د غم لړلو پېښو یو اوږد داستان دی؛ خو د امان الله خان سقوط او د هیواد څخه د هغه وتل ښایي د افغانستان له تر ټولو لویو ویرژلو پېښو څخه وي. د امان الله خان له سقوط سره افغانستان داسې یو وطن پالونکی او پر ترقی او استقلال مین پاچا له لاسه ورکړ چې په خپل تاریخ کې به یې د هغه په څېر مشران ډېر لږ لیدلي وي. د امان الله خان له سقوط سره په افغانستان کې سقاوي دوره راغله او کابل او ټول هیواد داسې پېښې ولیدلې چې په تاریخ کې یې نه وې لیدلې. د سقاوي نظام په دوره کې د زرهاوو بېګناه انسانانو سرونه ورغړېدل او سر، مال او ناموس د مصونیت مفهوم له لاسه ورکړ. د سقاوي نظام له سقوط څخه وروسته د نادرخان په پاچهۍ او د هاشم خان د صدارت په وخت کې د امان الله خان او د هغه د طرفدارانو او د نادرخان د کورنۍ تر منځ په سیاسي کشمکش کې په سل هاوو داسې کسان د بندیخانو شومه سول چې د هیواد لپاره یې جبران ممکن نه وو او هر یو یې د « سل دې ومره یو دې مه مره» په کتار کې وو.

## محمد نادر خان:

نادرخان په افغانستان کې د اعلیحضرت امان الله خان د استعفی او د سقاویانو د قدرت نیولو د خبرونو د اورېدلو سره سم له فرانسې څخه د هند پر لور حرکت وکړ. په فرانسه کې د برتانیې سفیر، په دې پلمه چې برتانیه د افغانستان په روان بحران کې مطلقه بېطرفي ساتي، د برتانوي هند له لارې ، افغانستان د تېرېدلو لپاره، نادرخان او د هغه ورونو سردار محمدهاشم خان او شاه ولي خان ته له ویزې ورکولو څخه ډډه وکړه؛ او یوازې هغه وخت یې موافقه وکړه چې محمدهاشم خان له بلې لارې، چې احتمال لري مطلب به یې شوروي اتحاد وو، افغانستان ته د داخلېدلو ګواښ وکړ. شاه ولي خان ص ص ۳۴-۳۵

نادرخان له فرانسې څخه په داسې وخت کې، چې سخت ناروغ وو، حرکت وکړ. هغه په لار کې حتی داسې ناروغ سو او تبې یې دونه زور ورباندې وکړ چې محمدهاشم خان او شاه ولي خان یې په کښتۍ کې خپلې کوټې ته وبلل او هغوی ته یې وویل چې نور د ژوند امید ورته پاته نه دی او که چېرې مړ سو نو د پورټ سعید په بندر کې دې ، چې د مسلمانانو خاوره ده، ښخ کړل سي. هغه شاه ولي خان او هاشم خان ته وصیت وکړ چې د ده د مړینې په صورت کې د افغانستاان د ژغورنې او نجات ماموریت ته دوام ورکړي. البته د هغې شپې په سبا یې روغتیایي حالت یو څه ښه سو او سفر ته یې دوام وکړ. هغه کتاب ص ۳۷

نادرخان نه په لاس کې پیسې درلودلې او نه یې لښکردرلودی، ځکه یې نو باید له لومړۍ ورځې څخه هر ګام په احتیاط اخیستی وای. هغه د امان الله خان د طرفدارانو او په تېره بیا په هند کې د آزادۍ غوښتونکو په مخ کې، چې زیاتره د امان الله خان

طرفداران ول، ځان د امان الله خان طرفدار ښودی او ويل به يې چې غواړي هغه بيرته قدرت ته ورسوي. حتى غلام صديق خان چرخي له هغه سره څلور زره طلايي سټرلينګ پونډه مرسته وکړه او وروسته يې ډېر ارمان کاوه. او ويل به يې چې له هغو پيسو څخه نادرخان ته دوه زره سټرلينګ پونډه رسېدلي ول او هغه په يوه ليک کي مننه ورڅخه کړې وه. صديق خان به ويل چې له نادرخان سره نورو کسانو هم مرستي وکړې؛ خو کله چې هغه د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر په مياشت کي کابل ونيوی ځان يې پخپله پاچا اعلان کړ او د امان الله خان طرفدران يې له منځه يووړل. تيخانوف ص۲۲۴

نادرخان له فرانسې څخه د حرکت په ورځ خبريالانو ته ويلي وه چې د کابل د فتح کولو په صورت کي، د تاج او تخت او قدرت ته د امان الله خان د بيرته رسولو په مسله کي ځان ته د مداخلي حق نه ورکوي، بلکه دا حق ملت ته سپاري. هغه کتاب ص ۲۲۵

نادرخان د ۱۹۲۹ کال د مې پر ديرويشتمه پېښور ته ورسېدی. هغه په پېښور کي، د اوضاع له تحليلولو څخه وروسته، د امان الله خان ملاتړ اعلان کړ او د قبايلو مشرانو ته يې، چې د ده ليدلو ته ورغلي ول، په څرګنده، اعلان وکړ چې د سقاو د زوی د نسکورولو او د امان الله خان د پاچاکولو لپاره به خپل ټول وس تمام کړي.

نادرخان دغه راز د پښتنو د مشر خان عبدالغفار خان سره په خبرو کي د امان الله خان ملاتړ اعلان کړ او ورته وې ويل چې ټولي هلي ځلي يې د امان الله خان لپاره دي. هغه کتاب ص ۲۲۵ عبدالولي خان ص ص ۸۹-۹۰

کله چې نادرخان له انګرېزانو سره کتل، يا يې د غلجيو قبايلو له مشرانو سره، چې اکثريت يې د امان الله خان په مخالفت را ولاړ سوي ول، خبري کولي او يا يې له مذهبي او روحاني مشرانو سره ليدني کتني کولي هغوی ته يې د امان الله خان پر ضد دريځ څرګنداوه. حتى ويل کېږي چې په خوست کي يې د ځينو قبايلي مشرانو په مخ کي سوګند ياد کړ چې د امان الله خان د بيرته پاچا کولو لپاره کار نه کوي. ټيټلرص ۲۲۲

نادرخان، د کابل د تخت د نيولو لپاره په هلوځلو کي، تر ټولو کسانو ځلېدونکی ستوری وو او هري خوا کوښښ کاوه چې هغه له ځان سره ملګرى کړي. حبيب الله کلکاني هغه ته فرانسې ته دوه تنه ور ولېږل چې کابل ته يې راولي او په حکومت کي يو لوی مقام واخلي.امان الله خان هم نادرخان ته احوال لېږلی او هغه ته يې ويلي وه چې کندهار ته ورسی او له ده سره يو ځای سي. پېښور ته د امان الله خان د هيات د رسېدلو څخه مخکي، نادرخان په کابل کي د انګرېزانو له سفير فرانسيس همفريس سره، چې له پخوا يې ورسره پېژندل، وکتل او د افغانستان د روانو حالاتو په باب يې د هغه نظر وغوښت. همفريس په زغرده ورته وويل چې برتانيه به د افغانستان په چارو کي خپله بېطرفي وساتي، او د افغانانو له مجبوريت او بدي ورځي څخه به ګټه پورته نه کړي. هغه بالاخره ورته وويل چې په افغانستان کي چې هر څوک قدرت ته ورسېږي، که امان الله خان وي که بل څوک، برتانيه به له هغه سره دوستي او مرستي کوي.

يوه ورځ وروسته علي احمدخان له نادرخان سره وکتل او له هغه  څخه يې وغوښتل چې يا خو د هغه سره د پاچهي په نيولو کي مرسته وکړي او يا خپل ځان پاچا اعلان کړي او دی به مرسته ورسره وکړي. نادرخان يو پېشنهاد هم منظور نه کړ او علي احمدخان ته يې وويل چې اوس حاضر هغه د افغانستان د ژغورني لپاره کار کوي؛ د پاچا او امير ټاکل د ملت او اولس کار دی.

د برتانوي هند حکومت بالاخره نادرخان ته احوال ورکړ چې نور بايد ډېر ژر د هند له خاوري څخه افغانستان ته ننوزي. نادر خان د کرم پر لور حرکت وکړ او له هغه ځايه د پکتيا ولايت ته ننووت. خپل وررور سردار هاشم خان يې مشرقي ته واستاوه څو د پښتنو مشرقي قبايل د سقاو پر ضد جګړې ته وهڅوي. ستيوارټ ص ص ۵۲۰-۵۲۲

د برتانيي حکم ډېر ساده وو؛ کله چې نادر خان او د هغه ورونه د برتانوي هند له پولي واوړي، بيرته د برتانوي هند خاوري ته نه سي را اوښتلای او که را واوړي د برتانيي حکومت يې نيسي. د برتانيي حکومت دغه راز نادرخان او د هغه ورونو ته

اجازه ورنه کړه چي په صوبه سرحد کي له پښتني قبايلو څخه لښکر جوړ کړي. کله چي سردارهاشم خان په مشرقي کي ماته وکړه او د برتانوي هند خاوري ته واوښت نو د برتانيې مقاماتو هغه ونيوى او د کوټي ښار ته يي واستاوه. دوپري ص ص ۴۵۸-۵۹

نادرخان دري ځله کوښښ وکړ چي د لوګر له لاري پر کابل باندي حمله وکړي او دري ځله ناکام سو او د ګرديز ښار يي هم له لاسه ورکړ. نادر خان د برتانيي له حکومت څخه وغوښتل چي هغه ته په ازادو قبايلو کي د لښکر جوړولو اجازه ورکړي؛ خو برتانيي اجازه ورنه کړه؛ او نادرخان  بالاخره انګريزانو ته وليکل چي هغه د آزادو قباليو له مرستي پرته کابل نه سي نيولاى. که انګريزان د وزيرو او مسعودو قبايلو ته له سرحد څخه د تېرېدلو او له ده سره د مرستي کولو اجازه نه ورکوي نو بيا به دى مجبور وي چي د جنګ ميدان پرېږدي او په هغه صورت کي به په افغانستان کي يوه لويه ګډوډى را منځته سي. انګرېزانو بيا هم په رسمي توګه خپله بي طرفي وساتله او په ضمن کي يي په قبايلي سيمو کي خپلو مامورينو ته هدايت ورکړ چي که د قبايلو خلک د افرادو په توګه افغانستان ته داخلېږي نو غرض مه ورسره کوى او که چېري د بشپړ لښکر په توګه د افغانستان خاوري ته تېرېدل نو هم له قوي څخه کار مه اخلى ځکه چي په هغه صورت کي به داسي وضع منځته راسي چي د بېطرفى تر پرېښودلو به يي عواقب خراب وي. د انګرېزي مقاماتو د دي امر او هدايت خبره ډېر ژر په قبايلو کي تيته سوه او په زرهاوو وزير او محسود د نادرخان مرستي ته ورمات سول. نادرخان ،په همدغه لښکر ، د اکتوبر پر څوارلسمه کابل ونيوى او د اکتوبر پر پنځه لسمه يي خپله پاچهي اعلان کړه. پولادا ص ص ۱۹۰-۱۹۱

که د شوروي استخباراتو رپوټونه ومنو چي وايي له نادرخان سره يوازي شپېته زره وزير او تقريبا دېرش زره محسود، چي ټول په وسلو سمبال ول، ملګري سول، تيخانوف ص ۲۲۸ نو د دونه زياتو قواوو په مقابل کي د سقاو لپاره مقاومت کول غير ممکن کار وو .

د دوهمی برخی پای

نور بيا

**** **** ****

## اعليحضرت محمد نادر شاه (دوم)

jahani_a_bahari_s_m_moh_nadershah_۲.pdf